مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا                                                   ۲۰۲۱/۱۱/۱۱

# د افغانستان سیاسی او تأریخی ژورنال

## دويم ټوک

### اوه پنځوسمه برخه

## فراه

## او

## د افغانستان سويلي برخې

## تصحيحات

## ډاکټر لوډويک . ډبيلو . ادمک

AKADEMISCHE DRUCK –u VERLAGSANSTALT

GRAZ –AUSTRIA
1973

**لودویک آدمک**

**جوین:** وگورئ: لاش جوین
**کج بیک** (کج پایک): وگورئ: گرشک
**کده:** ۲۲ – ۳۱ ، ۱۸ – ۶۲: د خاشروډ پر ښیٔ غاړه باندې له چخانسوره ۲۰ مایله لیرې یو کلی دی. دلته یوه ډېره لویه کلا سته او هم پریمانه کرنه په کې سوې ده خو استوګن وګړي ئې چندان ډېر نهٔ دي. اوبهٔ ئې له څاه ګانو څخه دي. دلته د سړک د ساتنې لپاره د کوم غنډ یا ګارنیزون د اچولو اړتیا نهٔ سته یوازې څو تنه خاصه داران د سړک د ساتنې لپاره بس دي. همدا شان ویل سوي چې چې په کدې (کې او یا د هغې په ګاونډ کې بې شمېره کنډوالې او د هغو پاتې شونې سته. (اې. بي. سي). هغه معلومات چې په ۱۹۰۴ز کال کې د ډګروال مک موهن تر مشرۍ لاندې د سیستان د مأموریت له لارې له بومي وګړو سرچینو څخه ترلاسه سوي دي وايي چې دلته په کده کې د شیعه فارسیوانانو ۱۰۰ کوډلۍ سته او امیر ارباب فارسي ئې (کد خدا) «د کلي ملک – ژ» دی. راپورونه وايي چې دلته په کده کې د زرتشتیانو د اور معبد او یوه لرغوني کلا سته. (بومي معلومات، ۱۹۰۴). همدا شان وګورئ: خاشروډ. *یو شمېر نقشې دا ځای د (کدو) په نوم ښیي. د (کدې دښته) په ۳۰ – ۳۱، ۱۵ – ۶۲ کې لیست سوې ده.*
* **کجه خاجو**[1] **(کږه خاجو)**: وګورئ: خاجو
* **کدو**: وګورئ: کده: ۲۲ – ۳۱ ، ۱۸ –
**کافر راه:** ۰۰ – ۳۱ ، ۰۰ - ۶۳: له سیستانه د مارګو له دښتې ورها خواته تللی یو سړک دی، دا سړک د غلګټلې او سر و تار تر خواجه علي پورې د تللې سړک له لارې راځي. (تییت ۱۹۰۳). د کافر روډ په نامهٔ یو سیند په ۳۹ – ۳۱، ۳۱ – ۶۲ کې واقع دی. د کافر راه په نامهٔ یو ځای د تیورې د شمال لویدیځ په ۳۸ مایلې کې په ۴۶ – ۳۳، ۳۶ – ۶۴ کې واقع دی.

[1] - KADJAH See KHAJO



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

**کاهدانک**: ۱۹ ــ ۳۲، ۶ ــ ۶۲: د فراه د سویل په ۵ مایلی کې یو کلی دی. دې کلي کې د درانیو، نورزیو، علیزیو او فارسیوانانو ۱۰۰ جونګړې دي. د کلي ځمکې د فراه رود له سینده د راغځېدلي کانال له لارې خړوبېږي. وګورئ: خیر آباد. ( ایس. ایم. بومي معلومات. ۱۹۰۴). *په دغهٔ نامهٔ یو بل کلی په ۸ ــ ۳۲، ۳۸ ــ ۶۴ کې واقع دی.*

**کانِ اعظم**: ۱۸ ــ ۳۱، ۴۸ ــ ۶۲: له خاشروده تر شنده د راغلي سرک په اوږدو کې د یوهٔ دښتني کاریز نوم دی. له دغهٔ ځایه له ۴ یا ۵ څاه ګانو څخه ښې اوبهٔ ترلاسه کېدای سي، ویل سوي چې د اړتیا وړ توکي هم کېدای سي دلته ډېر سي. همدلته د اوښانو د څرېدلو لپاره ښهٔ ځایونه سته. (بومي معلومات ۱۹۰۴).

**کانِ جمال الدین**: له خاشروده تر شند پورې د تللي سرک په اوږدو کې یو دښتنی کاریز دی. ویل سوي چې ډېرې ښې اوبهٔ ورڅخه تر لاسه کېدای سي. (ایس. ایم. تیی. له بومي معلوماتو څخه ۱۹۰۴).

**کیکباد**: کیقباد: ۱۲- ۳۰ ، ۱۷ ــ ۶۲: د هلمند د سیند پر غاړه د یوهٔ وران ویجار ښار نوم دی، دا ځای ۲۴ مایله له رود باره کښته او د چهاربرجک د سویل ختیځ په ۱۴ مایلی کې دی. ددې ښار نوم ددې ښار د بنسټ ایښودونکي یعنی د لومړني کیاني پادشاه له نامهٔ څخه راغلی دی او له دې کبله ویل سوي چې دا ځای د کیخسرو پلازمینه وه، ددې سیمې او ځای له ځانګړتیاوو څخه ښکاري چې دلته دوه لوړ کنډواله یا مخروب برجونه ول چې دواړه له یو بله ۳۰۰ یارده لیرې ول. د پاتې شونو خښتې په لمر وچې سوې دي. (بیلو).

**کیسارک**: غیسارک: ۱۷ ــ ۳۲، ۵۷ ــ ۶۴: د زمینداور په سویل ختیځ کې یو کلی دی او ویل سوي چې د علیزیو ۵۵ کورنی په کې استوګنې دي (صاحبداد خان). دا کلی د موسی کلا د سویل ختیځ په ۱۲ مایلی کې موقعیت لري دا نوم د «غیسارکه» په ډول هم لیکل سوی دی.

* **کجکي**: وګورئ: کجکي

**کجکي**: *۱۶- ۳۲ ، ۳ ــ ۶۵: دا د کجکي د اوبو د بند او د اوبو د برېښنا د تولید د ستېشن نوم دی. دا بند ۳۰۰ فیټه لوړ او ۹۰۰ فیټه اوږد دی او د ۳۶ مایلو په اوږدو کې د اوبو یو بند جوړوي. د برېښنا د تولید دا ستېشن ۶۶۰۰۰ کیلوواټه برېښنا تولیدوي چې عمدتاً د ګرشک او د ګرشک د ګاونډیو سیمو لپاره ده. د کجکي په نامهٔ دوه کلي دي: (کجکي علیا او کجکي سفلی) «بر کجکي او کوز کجکي ــ ژ» او په ۱۶ ــ ۳۲، ۵ ــ ۶۵ او ۱۹ ــ ۳۲، ۷ ــ ۶۵ کې واقع دي. د اوبو بند په ۲۲ ــ ۳۲، ۱۶ ــ ۶۵ کې واقع دی. ددې سیمې شرحه په ۱۹۱۲ز کال کې داسې سوې ده:*

د هلمند پر کینه غاړه باندې هغهٔ ټکي ته نېږدې چې سیند د هلمند ولایت ته ننوځي واقع ده. د صاحبداد خان د راپور پر بنسټ " کجکي" کې دغه وګړي استوګن دي:

| قوم | د کورنیو شمېـر | قوم | د کورنیو شمېـر |
|---|---|---|---|
| اسحاقزی | ۳۵۰ | علیزي | ۲۵۰ |
| نورزي | ۳۰۰ | بارکزي | ۲۰۰ |
| الکوزي | ۱۵۰ | | |
| ټول ټال | | | ۱۲۵۰ کورنی |

دلته یو ډېر ښهٔ ګودر هم سته (صاحبداد خان)

* **کج ګرد**: ۸ ــ ۳۲، ۵۸ ــ ۶۴: د موسی کلا له سویل ختیځ څخه ۱۲ مایله لیری یو کلی دی.

**کج بایک**: وګورئ: ګرشک

**کجکي**: وګورئ: ګرز

**کج ماش کوه**: --- ۳۲، --- ۶۴: د موسی کلا یو کلی دی او ویل سوي چې د علیزیو ۳۰ کورونه په کې دي. (صاحبداد خان)

**کچکال**: وګورئ: یکچال

**کاک شِب**: کوکِ شِب: کوهٔ کاشف: ۱۳ ــ ۳۲، ۵۹ ــ ۶۱

**قلعـهٔ ګز**: ۰۰ ــ ۳۲، ۴۶ ــ ۶۴: د ګرشک یوه علاقه داري ده. وګورئ: "پُشتِ رود"؛ همدا شان وګورئ: "قلعهٔ ګز"

**قلعهٔ افضل**: ۱۶ ــ ۳۰، ۴۵ ــ ۶۱: د کمال خان د بند د سویل لویدیځ په ۵ مایلی کې یو کلی دی.

**د بُست کلا**: قلعهٔ بیست: ۳۰ ــ ۳۱، ۲۲- ۶۴: لوړوالی: ۲۴۰۰ فیټه. دا د یوهٔ لرغوني ښار او د بالاحصار پاتې شوني دي چې د هلمند او ارغنداب د سیندونو د یوځای کېدلو ټکي ته نېږد واقع دی او د ګرشک له سویل څخه ۳۰ مایله لیرې دی.

دا بالاحصار یو له هغو څخه دی چې نادر شاه «افشار- ژ» په ۱۷۳۸ز کال کې د سیستان او هلمند درې له لارې د کندهار پر لور د خپل مارش په ترڅ کې د کندهار د غلجي تولواک، تولواک میرحسین پر ضد وران کړ. نـهٔ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

يوازې د نادر په لاس دداسي پياوړي مورچل نړول بلکه د دهٔ د سرتيرو په لاس د څو ورځو مخکې ورانيو هڅې پر دې ټکي د تضمين مُهر ږدي چې دا څومره مهم ستراتيژيک موقعيت دی.

په ۹۷۷ز کال کې بُست د غزني د يوهٔ سردار د پانگې اچونې ځای وو. په ۱۲۲۲ز کال کې چنگيز خان له خاورو سره يو کړ. په ۱۴۹۸ز کال سلطان حسين ميرزا مخکې له دې چې نور هم ختيځ لور ته د خپل ياغي زوی پر ضد وخوځېږي له هراته ئې مارش وکړ او دا ځای ئې ونيو، حال دا چې په ۱۵۴۲ز کال ستړواک همايون[2] د يوهٔ فارسي لښکر په ملتيا له هلمنده هاخوا د خپل پرمختگ پر لارې مخکې له دې چې کندهار ته پرمختگ وکړي او کندهار ورته تسليم سي دا ځای خوندي کړ.

د گرشک له خوا بست ته د راتگ پر لارې د هلمند د سيند کيڼې غاړې پر لور د ورانو سويو زړو برجونو پاتې شونې ليدل کېږي چې پر لوړ ترينو ټکيو باندې ولاړ دي او د سيمې د لويديځ لورې پر ټول منظر باندې له خنډ پرته فرمان چلوي.

د بست کلا ته په رانېږې کېدو سره د ورانيو دغه پاتې شونې مخ په ډېرېدو سي او له دې ځايه تر څلورو مايلو پورې د سړي سترگې پر يوې لوړې باندې پر يوهٔ بالا حصار ولگېږي چې د برجونو، کلاگانو او د پرتمين با عظمته ارگ د ماڼيو د تعميراتو پاتې شونې ئې خورې ورې پرتې دي؛ دا پاتې شونې د معمارۍ د ستر مهارت نښې له ځانه څرگندوي او ددې شاهدي ورکوي چې دا ځای يو وخت يو ډېر مهم ښار وو، دا ځای د معمارۍ په مهارت او په يوهٔ غير معمولي پياوړتيا سره ډېر ټينگ سنگربندي سوی وو، دلته داسې خلک اوسېدل چې د پوځي هنر پياوړې پوهه ئې د يوهٔ د پام وړ فرهنگي خوند د ترکيب په لرلو سره درلوده.

د هلمند د سيند پر غاړې پر دې لوړې باندې د ورانيو دغه پاتې شونې له درې نيم مايلو نيولې تر ۴ مايلو پورې اوږدوالی او يو نيم مايل پلنوالی لري. د ځمکې د ټوټې دغه لوړوالی دغـهٔ ځای ته داسې يو موقعيت او موقف په لاس ورکوي چې پر شاوخوا ټولې سيمې ان تر ارغندابه پورې فرمان چلوي.

د بُست کلا د همدغـهٔ لوړ ځای پر وروستي سويل لويديځ ټکي باندې پر يوې ډېرې لوړې غونډۍ باندې واقع ده چې له همدې ځايه پر ښار او شاو خواوو سيمو باندې مسلطه ولاړه ده او له بلې خوا د هلمند د بلې غاړې پر گودرونو باندې فرمان چلوي.

حصار په خپله څلورڅنډيز يا مربع دی چې جناحي برجونه لري او دغـهٔ پياوړي او له غښتلي ضخامته برخمن دغه جوړښت ته له دننه يو ټينگ کمر بند جوړوي، دغه غښتلی محافظتی ضخامت د غونډۍ په شمالي ډډې کې په مستطيل ډول جوړ سوی دی او له درې وو خواوو ترې ژور خندقونه راتاو دي. غونډۍ په خپله د مستطيل څلورمه ضلع جوړوي؛ او د غونډۍ سويلي ډډه شخه سرځوړې يا شيوه ده او ډېره لوړه ده دلته کوم خندق ته اړتيا نـهٔ وه. دغه په خپله د خپل – ځان ساتونکی جوړښت له دننه د مستطيلې احاطې په مرسته محافظت سوی چې خپل شمالي مخ ته يو خندق لري او دوه لويې لويې دروازې لري يوه ئې په ختيځ او بله ئې په لويديځې ډډې کې ده او همدغې محوطې ته لار ورکوي او همدا حصار ته يوازينۍ د ننوتلو لارې دي. دا دروازې په کوچنيو فرعي استحکاماتو او په چتونو کې د سرپوښلو دهليزونو په مرستې پياوړې او محافظت سوي دي. ددې ځای ټول موقعيت له يوه لوړې متوازنې پياوړتيا څخه برخمن دی او ديوالونو ئې د وخت د تېرېدلو اثراتو د ورانيو پر وړاندې ټينگ مقاومت کړی دی.

ددې سيمې نوم «قلعـهٔ بيست» په يوهٔ شکمن گومان ښايي د شلو کلا گانو له شتون څخه اشتقاق سوی وی يا شلو بالاحصارونه څخه او يا هغې لومړې سيمې څخه راغلی وي چې مخکې مو شرحه کړله. د بيست کلا چې ددې ټولو کلاگانو په منځ لويه او مهمه ده پر اصلي ځمکې باندې ده چې د هلمند د سيند پر غاړه واقع ده او له ارغندابه يوازې دوه مايله ليرې ده. له دې کلا څخه درې مايله ليرې د هلمند او ارغنداب سيندونه سره يو ځای کېږي، ددې سيندونو د الحاق او د دواړو تر منځ د رسوبي ځمکې يوه بډايه د ټيټ سطحې ځمکې ژبه راغلې ده چې دا د دواړو سيندونو دلتا جوړوي؛ ښايي دا د رسوبي خاورې د تدريجي راټوليدلو او راوړل سويو ختو او چقړو له کبله وي چې دواړو سيندونو له ځان سره راوړي دي. کله چې دا دواړه سيندونه سيلابي سي ددې ژبې ډېرۍ برخه په اوبو کې پټېږي؛ خو په دې دلتا کې په کليو کې له ختو جوړو د کوچنيو کلاگانو شتون ددې څرگندونه کوي چې ښايي دا ژبه هيڅکله به بشپړ ډول په اوبو کې نـهٔ وي ډوبه سوي. په خپله د بيست کلا د دلتا له سطحې د پام وړ لوړوالي باندې ودانه سوه او هماغسې چې فرير وايي هيڅکله اوبـهٔ ترې نـهٔ دي راتاو سوي.

---

[2] - ميرزا نصيرالدين بيگ محمد ۱۵۰۸ – ۱۵۵۶ز د همايون په سلطنتي نامـهٔ پيژندل کېږي دی د مغولي هند يا د گورگانيانو دويم پادشاه وو چې لومړی ئې له ۱۵۳۰ تر ۱۵۴۰ او بيا ئې له ۱۵۵۵تر ۱۵۵۶ز کال پورې د افغانستان، معاصر پاکستان او بنگله ديش په دې جغرافيوي تړانگې واکمنی کوله. دهٔ هم د خپل پلار بابر په شان ډېر ژر خپل سلطنت له لاسه ورکړ او صفوي فارس ته ئې پناه يوړه.نوموړي د صفوي فارسي لښکر په مرستې د خپلې واکمنې سيمې ونيولې. همايون د سوري شير شاه توري ته ټينگ نـهٔ سو او په ۱۵۴۰ز کال کې مغولي سلطنت ورڅخه لاړ او شيرشاه ونيو. - ژ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د ارغنداب د سیند په کیڼي غاړي کي د شګو غونډۍ ناڅاپه د سیند پر بستر باندې راکوزېږي. په څو دانو دغو غونډیو کي د زړو برجونو پاتي شوني سته چي اوس په شګو کي ښخ دي، بادونو کرارکرار شګي پر دغو برجونو باندې راوړي او دغه پاتي شوني ئې په بشپړ ډول ښخي کړي دي او د سیند پر بستر باندې را شیوه سوي څوړند دیوال ددغو پاتي شونو یوازینۍ نښه ده.

تر قلعهٔ بیست «بُست – ژ» لاندې یاده سوې دلتا په ښهٔ ښېرازه ډول شنه او ښه کرنه په کي سوې ده او څو کلي لري. د همدې لوړي پر سربلندې ددغو پاتي شونو په منځ کي څو نور کلي هم سته او بیا هم ددغهٔ ځای ختیځ کي د ارغنداب خوا ته چي ټول ئې د لښکري بازار په نامهٔ یادېږي په دې ولسوالۍ کي د پخوانیو استوګنو سیمو پر ډول او طبیعت شاهدي ورکوي او تصدیقوي چي دلته دغسي د استوګني سیمي لا له پخوا هم وې.

د بیست له کلا «د بُست له کلا – ژ» څخه ګرشک ته د سیند په ښي غاړه کي یو ښهٔ او آسانه سړک تللی دی؛ دا سړک، لومړی د ټیټي سطحي د کرنیزو ځمکو په منځ کي پرمخ ځي او په دې پسي بیا د شلګنې دښتې په منځ کي تر ګرشکه ځي. له بابا حاجي وروسته هرات ته د تللي سویلي سړک په اوږدو کي یو سړک شورآب ته تللی دی. د بیست د کلا په مخالف لوري کي د هلمند د سیند په بله غاړه کي ۲ ګودرونه سته. دلته د اوبو بهیر له ۲۵۰ تر ۳۰۰ یارډو ارت دی او د سیند د بستر په مستقیمو غاړو کي سیند ۲۰ فیټه لوړ دی، خو د فبروري په میاشت کي یوازې له ۸۰ تر ۹۰ یارډو پورې ارت وو او شګلن بیخ ئې درلود. (ستیوارټ، بیدولف، بیلو)

لاندني معلومات د ډګروال مک موهن تر مشرۍ لاندې د سیستان د مأموریت له پلوه ددې لرغوني پیاوړي حصار په هکله له بومي سرچینو څخه اخیستل سوي دي." حصار په وران ویجاړ حالت کي دی. ورځېرمه ئې درې کلي دي چي بارکزي، دراني بریڅي او د فارسیوانانو یوه کوچني شمېره په کي استوګن دي. محمد جان خان، څُنسِزی بارکزی[3] دواړه ددې سیمي ملکان دي. دې ځای کي غنم، وربشي او هندي جوار کرل کېږي او یو شمېر بڼونه هم دلته سته. د بیست کلا (بُست کلا) درې د اوبو ژرندې لري او د همدغو کلیو په چم ګاونډ کي په وګړو ډک نور کلي سته چي ورڅخه پریمانه د اړتیا وړ توکي ترلاسه کېدای سي.

په دوبي کي د ورځېرمو ولسوالیو رمه وال خپل څاروي دې سیمي او د «بیست کلا» (بُست کلا – ژ) ته د مالڅر لپاره راوړي، همدا شان د هلمند او ارغنداب د سیندونو پر دواړو غاړو د شین غزي د ونو ګڼ ځنګلونه سته چي د اوښانو د څر لپاره پریمانه خوراک توکي برابروي. (بومي معلومات – ۱۹۰۴ز)

**قلعهٔ بُست:** د بُست کلا - ژ: وګورئ: قلعهٔ بیست: ۳۰ – ۳۱، ۲۲ – ۶۴

نوربیا

**قلعهٔ فتح:**...

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندې د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک ټولی او دویم ټوک ټولي برخي لوستی شی.

[3] - Khunsezai Barakzai – ښایي حسنزی بارکزی وي - ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ